# د بېټني قبيلې مېلمستيا او د ننواتې دودونه

# The Bittani Tribe's Hospitality and "Nanawati" norms

Akhtar Zaman★

Dr.Noor Muhammad (Danish Bettani) ★★

**ABSTRACT:**

The Bittanni nation's customs and traditions are known as "Baitanzo". The way other nations of the world have their own values and traditions, in the same manner,the Bittanni tribe owns certain customs and traditions which are referred to as Baitanzo. Most of the customs of the Bittanni tribe coincides with those of other pukhtoons and also corresponds to islamic values. Though the pukhtoons are an embodiment of islam as taking a look at the history reveals the fact that from the time of Daud(A.S) upto our Prophet Muhammad (S.A.W), the Pukhtoons have been the followers of Allah's oneness and they have always responded to the Prophet's call. For this reason, their traditions fall under the light of islamic jurisprudence. As customs and traditions are continued in other pukhtoons from classical times, similarly "Baitanzo" is pursued. From the "Qassi" mountain upto Jandola this "Baitanzo" prevails and the Bittannis strictly practice it.

**Keywords**: Bettani, Custom,Nanawaty,Hujra,melma.

بېټني د شيخ بېټن اولاد دے او د پښتونو درېمه قبيله ده. سړبني، بېټني او غورغشتي. دا درې واړه قبيلې د قېس عبدالرشيد د نسله څخه دي. او په کوهِ سلېمان کښې آباد وو چې ورته "قسې غر" هم وائي. د شيخ بېټن درې زامن اسماعيل، وړسبون او کجين او يوه لُور ئې بي بي متو وه. مشر زوے اسماعيل ئې سړبن ته ورکړے وۀ، چونکې د هغۀ زامن نۀ وو. لُور ئې بي بي متو په شاه حسېن غوري وادۀ کړه، چې قبيلې ته ئې متوزي وائي او د دوه زامنو اولاد ئې په بېټني مشهور شو چې لا تر اوسه ورته بېټني وئيلے شي. لکه څۀ رنګ مو چې وړاندې ذکر اوکړو چې بېټني په قسې غرۀ کښې اوسېدل نو هلته د کجين او

---

★ PhD Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar.

★ Assistant Professor , Pashto Academy, University of Peshawar.

وړسبون اولادونه آباد وو. چونکې د اسماعیل اولاد په سړبن کښې ګڼ وو شو، په قسې غرۀ کښې د خلجو او بېټنو تر مینځ جګړه راغله، څۀ وخت پورې خو جاري وه خو خلجیان په طاقت او په شمېر زیات وو نو بېټني ئې د خپلې زمکې او علاقې نه بې دره کړل.

بېټني د کوهِ سلېمان نمر خاتۀ لور ته لاړۀ او د کانیګرم په علاقه مېشتۀ شول. د کانیګرم علاقې نه ځینې قبیلې د قندهار او غزني په لور لاړې چې په افغانستان کښې شاملې دي. او اوس هم د افغانستان په مختلفو علاقو کښې مېشتۀ دي او ځینې قبیلې د روزګار په تلاش هند ته لاړې چې وروستو ئې هلته ډېر ښۀ او درانۀ حکومتونه راغلل. لا تر اوسه د بېټني قام هغه قبیلې په هندوستان کښې آبادې دي. کومې قبیلې چې کانیګرم کښې پاتې شوې هغه لا تر اوسه په پاکستان کښې آبادې دي. کانیګرم د بېټنو دوېم د اوسېدو ځاے دے. څۀ موده پس د بېټنو دا قبیلې د کانیګرم نه "دوه توئې" نومې ځې ته راغلې. دوه توئې د سره روغه تحصیل سره جخت پروت دے. د بېټني قبیلې وړسبون شاخ لا پخوا د کانیګرم او دوه توئې نه موجوده ضلع ټانک سره جنډوله، ګبر او چګملائے علاقې باندې حمله اوکړه، په دې علاقې باندې ګربز قام پروت وۀ. ګربز په اصل کښې د وزیر اولاد دے او هغوي ئې د خپلې زمکې او علاقې نه په وتو مجبور کړل. چونکې ګربز د اتمانزئ او محسود قبیلې ورور وۀ چې د کانیګرم شاؤخوا کښې آباد وو نو د ګربز بدل اخستلو په غرض ئې د بېټني شاخ کجین باندې حمله اوکړه، ډېر ئې سره ژوبل کړل خو چونکې محسود وزیر په شمېر کښې زیات وو. او کجیان په شمېر کم یعنې لږ وو ولې هغه وخت خو د تُورو جنګونه وو او اکثر چې د چا به شمېره زیاته وه هغوي به جنګ ډېر په آسانه ګټلو. څۀ موده پس کجیانو دوه توئې علاقه پرېښوده، په دې علاقو کښې لا تر اوسه پورې هدیرې شته دے. او خلق داسې وائي چې دا د هغه وخت جوړې هدیرې دي. نو بېټني قبیله دوه توئې نه راغله او په کوټکي کښې مېشتۀ شوه. څۀ وخت نه پس د وړسبون ښاخ ورګاړي ورته ننواتې اوکړه چې د ګربز په مقابله کښې زما ننګ او مرسته اوکړه. ډېر ورګاړي ئې ژوبل کړل او د قبر علاقه ئې ترې واخسته . ورګاړي ورته په ننواتې کښې دا هم ورته اووئیل چې د دې علاقې وېش به په درې ځایه وي.

بیا کجیانو په ګربز باندې یلغار اوکړو او ګبر علاقې نه ئې وشړل. چې کله دا علاقه د کجیانو په لاس ورغله نو د کجین اولاد دا علاقه خپل مینځ کښې اووېشله. د کټه واز اولاد چونکې په شمېر کم وۀ نو دوي ئې د تته سره یوځائے کړل . نو دا مقبوضه علاقه ئې سرا غرۀ نه تر شېملې پورې وېش کړه ، په وېش کښې د تته او کټه شېملې لور ته اورسېدو. خو د وېش نه پس ئې د خپل رواج او دستور مطابق ډولونه اوډنګول. چې دا علاقه زما شوه. نو د دې په وجه سره غرۀ نه تر قبر پورې د تته او کټه ګرام علاقه شوه. د وزیري ډکي نه تر شېملې پورې ورګاړي آباد شول او وړسبون د جنډولې او ټانک په سیمه آباد شول. وخت تېرېدو سره یو ځل بیا محسود قبیلې په وړسبون باندې حمله اوکړه. چې د جنډولې په علاقه مېشتۀ وۀ. چونکې وړسبون د محسود زور نۀ لرلو او د ټانک په لور لاړل خو کجیانو دا برداشت نۀ کړه چې په جنډولې باندې دې غېر قام آباد شي او فوراً ئې ځلوېښتے تیار کړو. د ځلوېښتو کسانو ګروپ ته ځلوېښتے وائي او جنډولې ته ئې د جنګ د پاره اولېږلو. د ځلوېښتي او محسود تر مینځ جګړې اوشوې خو آخر ځلوېښتے کامیاب شو. او مخالفین ئې په شا اوتمبول. او تر شعور تنګي پورې ئې قبضه اوکړه. سپین وام او ځۀ نورې علاقې د کجیانو زېرِ کاشت علاقه وه اوس هم سپین وام خواته د کجیانو هدیره شته دے. بیا دې وروستو سمجهوتې اوشوې او بریدونه اوټاکلے شول- او تر اوسه پورې هغسې قائم دي-

سهېل احمد بېټني په خپل کتاب کښې د بېټنو د قبیلو پحقله لیکي:

"چې في الحال بېټني قبیله د پاکستان صوبه خېبر پښتونخوا ضلع ټانک، ایف آر ټانک او ایف آر لکي مروت آباد دي او دوي د شجرو پحقله معلومات تر لاسه کړي دي. د بېټني قبیلې د شمېر قیصه واضح نۀ ده ولې چې په هندوستان او افغانستان کښې چې کومې د بېټني قبیلې خلق اوسېږي ، هغوي معلومات تر لاسه کول ګران کار دے. خو بیا هم که ورته د ټانک په سطح باندې اوګورې نو په ټانک کښې چې څومره قبیلې اوسېږي دې ټولو کښې د قبیلې شمېره زیاته ده. تقریباً اویا فیصده (۷۰) په ټانک کښې بېټني قبیله ده"(۱).

چې کله احمد شاه بابا د وزیرستان د قبائیلو اعداد و شمار حاصلولو نو دلته موجوده د بېټنو قبیلو شمېره ۱۲ زره پورې وه او محسود ۱۸ زره دغه رنګ وزیر ۶۰ زره پورې وه. هره قبیله خپل دود دستور او رواج لري. او په ټولنه کښې د

خپلو رواجونو عملي کول ضروري ګڼي. په پښتنه ټولنه کښې د پښتنو مسائل او ستونزې د قبیلو پخواني رواج مطابق حل کېږي. دغه دود دستور او رسم رواج نسل در نسل راروان دے بلکې اوس خو په هره قبیله کښې داسې خلق رامخې ته شول چې دغو رواجونو ته ئې تحریري شکل ورکړو.

د بېټني قبیلې چې کوم دود دستور دے هغې ته "بېټنځو" وائي. لکه څنګه چې د نړۍ نور قامونه د ژوند لپاره خپل دستور او رواج لري دغسې بېټني قبیله هم ځان د پاره یو رواج او دستور لري چې د بېټنځو په نوم یادېږي. د بېټني قام اکثر رواجونه د نورو پښتنو او اسلامي اقدارو سره تړون خوري. هسې خو پښتون ټول په ټوله د اسلام یوه نمونه ده. ولې چې په تاریخ باندې که نظر واچولے شي نو دا خبره ثابتېږي چې پښتون د داؤدعلیه السلام نه تر حضور مبارک صلی اللہ علیه وسلم پورې د اللہ تعالی د توحید مرستیال دي.

لکه څۀ رنګه چې په ټولو پښتنو کښې رواجونه د زړې او پخوانې زمانې راڅخه جاري دي نو دغه شان په بېټنو کښې هم د پخوا زمانې راهسې بېټنځو جاري راروانه ده. د قسې غرۀ نه تر جنډولې پورې یوه بېټنځو قائمه ده. او په دغو رواجونو باندې بېټن قام په سختۍ سره کاربند دے. بلکې نن سبا خو که اوګورو په ټانک کښې چې نورې څومره قبیلې دي هغه که مروت، ګُنډي او داسې نورې دا قبیلې هم د خپلو ستونزو د پاره د بېټنو رواج مخې ته ږدي او مسئلې پرې حل کوي.

په پښتنه ټولنه کښې چې څومره دودونه دي هغه تقریباً ټول یوشان دي. خو که په غور او فکر سره د ټولو قبیلو دودونه اوګورې نو بعضې رواجونه ئې د یو بل نه بدل دي.

## درې بېټني:

*"بیٹنی قبیلے میں درے بیٹنی کی اصطلاح بہت مشہور ہے۔ درے کو اُردو میں تین کہا جاتا ہے جبکہ اصطلاحی معنی میں درے سے مراد تین قبائل، تین طبقے یا تین حصے ہیں۔*

*قدیم پشتون قبائل میں یہ دستور رہا ہے کہ جب کسی بھی تنازعہ کا حال ہو یا لشکر کشی ہو، سرکاری جرگہ میں شرکت ہو یا نفع و نقصان کی وصولی ہو تو اس وقت وہ قومی تقسیم کا باقاعدہ بروئے کار لایا جاتا ہے جہاں عرصے سے ایک قاعدہ ہر قبیلے میں رائج ہے۔ اور وہ ان کا قبائلی تقسیم کا قاعدہ*

ہے۔ بیٹنی قبیلے میں درے بیٹنی کی اصطلاح قومی تقسیم کے تحت وجود میں آنے والا قاعدہ یا درجہ بندی ہے۔ جو عرصہ دراز سے قائم ہو کر آرہی ہے۔ ان میں وڑ سپون قبائل، ہتہ قبائل اور دنا قبائل شامل ہیں۔ جن کو مقامی لہجہ میں درے بیٹنی کہتے ہیں"(۲).

په ټانک کښې درې بېټني فلاحي او اصلاحي کارونو کښې ډېر اهم کردار ادا کوي- په ټانک کښې بېټني اتحاد، بېټني نوجوانان او داسې نور بلها تنظيمونه جوړ شوي دي چي پوره په ټانک علاقه کښې ګرځي راګرځي او هغه ستونزې، مسئلې هواروي چي د پنځوستو او شپېتو کالونو راهسې راروانې دي. درې بېټني کښې هغه رواجي خلق شامل دي چي د پښتنو ځومره دودونه دي د هغې متعلق پوهه لري. او که چرته يو داسې رواج مخې ته راشي چي هغه شريعت او اسلامي اقدارو سره سمون نۀ خوري نو کوشش کوي چي د هغې مخ نيوے اوکړي.

په بېټنځو کښې خو ډېر زيات دودونه شامل دي لکه جرګه، ننواتې، مرکه، مېلمستيا، پناه ورکول، کاڼے، ملاتړ، ننګ، غزا، بدرګه او داسې نور. خو چونکې زما عنوان سره چي کوم سمون خوري نو زۀ به کوشش کووم چي په هغې باندې تفصيل اوليکم- خو زۀ به د ننواتې او مېلمستيا سره اړوند معلومات شريکووم.

**ننواتې**:

ننواتې د پښتونولۍ يو ډېر اهم او مشهور دود دے چي په پښتنو کښې له ابتداء څخه تر اوسه پورې راروان دے. ننواتې د چا کور ته بخښنې غوښتلو لپاره تللو ته وائي. ننواتې د معذرت غوښتنو يو خاص رسم دے چي د پښتنو په قبيلوي تعاملاتو کښې ډېر مهم ځاے او قام لري. ننواتې د هرې هغه پېښې په نتيجه کښې کېږي چي څۀ ملامته ترې شوې وي. په ټولو پښتنو کښې د مړي ننواتې ډېره درنه ننواتې وي. کله چي ځوک د بل چا لخوا اووژل شي نو قاتل د مقتول کورنۍ ته ننواتې لېږي. او په بل شکل کښې يو کمزورے سړے د ظالم نه ځان په امان کولو د پاره يوې طاقتورې قبيلې ته ننواتې کوي. او د مالي نقصان پوره کولو د پاره ځينې وخت کښې ټول قام يا مالدار سړي ته په ننواتې ورځي.

ننواتې کښې مشران، ملکان او فقیران وغیره راغونډ کړي او سره د ګډانو د مخالف فریق کور ته ورشي. دغه ټول مشران په اجتماعي توګه د مخالف فریق په کور کښې په زمکه په خړو ختو کښې کښېني او تر هغه پورې نۀ اوچتېږي چې تر څو پورې د مخالف فریق خلقو دوي ته د اوچتېدلو وېنا اونۀ کړي. په غټو غټو ننواتو د ډېر نقصان کولو نه پس ننواتو کښې سر تورې ښځې هم د مخالف فریق کورته د ننواتې نه مخکښې لاړې شي او د دښمن نه د فېصلې سوال کوي. د ننواتې یوه مشهوره مقوله ده چې هر ننواتې کوونکے مشر ئې مخالف فریق ته پېش کوي چې "ستاسو چاړۀ او زما غاړه" دې نه پس نورې خبرې اترې شروع شي. ننواتې کله قبوله شي او کله ناکامه. د دې اختیار د دښمن فریق په لاس کښې وي. خو چې هر کله ننواتې قبوله کړے شي نو هم په هغه ځاے کښې ګډان حلال کړے شي او په شریکه سره ئې اوخوري.

ننواتې مې اشنا نۀ کړه قبوله
ما په سر د منت غرونه مانښام یوړۀ(۳)

ډاکټر محمد صادق ژړک په خپل کتاب "پښتونواله" کښې د ننواتې پحقله د نورو لیکوالو تعریفونه وړاندې کړي دي. لکه :

"ننواتې د پښتنو د عذر غوښتلو ډول دے او د کلو کلو دښمنۍ او عداوتونه په ننواتو له مینځه ځي. او داسې وي چې د یو سړي. په ننواتې کښې د خپل کلي یا قام سپین ږیري او ستانۀ خپل مقابل ته ورلېږي. کله کله چې امر ډېر مهم وي د بخښلو قابل نۀ وي نو خپلې ښځې په ننواتې ورلېږي. دا ننواتې دومره اهمیت لري چې پښتون مري خو ننواتې نۀ کوي او که ئې اوکړي نو د مقابل پښتون هم ضرور دغه مني او بخښي ئې"(۴).

د ننواتې په اړه ډېر څۀ لیکل کېدے شي ، د پښتنو مشهورو لیکوالانو نظرونه او لیکونه وړاندې کړل له هغو ټولو څخه دا جوتېږي چې پښتون په چا ملامت شي یعني چاته پړ شي نو بیا د هغې ملامتیا او پړکېدو له مخه یواځینے دود او لار ننواتې ده. چې مقابل لور ته په رضا کېدے شي. او که چرې یو پښتون د چا کره په ننواتې ورشي او هغه څوک چې بد ورسره شوي وي او ونۀ بخښلے شي نو

دا په پښتو کښې ډېره بده ګڼلے شي. خو که په دې دوران کښې هغه فريق چې بد ئې کړے وي او پور ورباندې کېښودے شي نو بيا پور پرې کوي. په پښتنو کښې د ننواتې ډېر قسمونه دي خو هره علاقه د خپل رواج مطابق د خپل زياتي پځقله ننواتې کوي. که په بنيادي توګه ورته اوګورې نو ننواتې په ټولو پښتنو کښې مشترک دود دے. او ډېر زيات فرق نشته پکښې. هر قام او هره علاقه ئې د ملامتيا ختمولو د پاره کوي. چونکې زما څېړنه د بېټني قبيلې اړوند ده. نو د بېټني قبيلې هغه دودونه چې د نورو پښتنو نه بېل دي. او لږ ډېر فرق شته پکښې. که مونږ ورته اوګورو چې په ټانک کښې څومره دودونه دي، هغه که د جرګې، مرکې او که د ننواتې دي دا ټول د بېټني قبيلې رواجونه دي. زما تعلق هم د ټانک سيمې سره دے او اکثر زۀ هم په دغه جرګو، مرکو او ننواتو کښې برخه اخلم.

په بېټني قبيلې کښې د مړي ننواتې چې وي نو کوم فريق ته چې په ننواتې ورغلي وي دوېم فريق ورته وائي که چرته په وروستۍ خبره راسره کوې بيا ننواتې قبوله ده او که په وروستۍ خبره نۀ کوې بيا د ننواتې ضرورت نشته. وروستۍ نه مطلب دا دے چې که چرې د دوه فريقو په مابېن کښې يوه پېښه رامينځ ته شي او په هغې کښې د دواړو فريقو تر مينځه ډېر نقصان شوے وي نو چې کوم فريق آخر نقصان کړے وي پور هغه پرېکوي.

په ټانک کښې د نورو قامونو ننواتې د وروستۍ نه بغېر فېصله کېږي. په بېټنو کښې د ننواتې يو رواج دا هم دے چې کله څوک چاته په ننواتې ورشي نو که چرته د هغۀ کور سره نژدې قبرستان يا د هغوي د خپلو قبرونه وي نو قبرو ته هم ننواتې کوي. په ننواتې کښې يو قسم دا ننواتې هم ده چې قاتل سره د ننواتې لاړ شي او د هغۀ کورنۍ ته په زمکه باندې څملي او ورته وائي چې مونږ چاړۀ او کفن سره راغلي يو، ننواتې قبوله کړه. د علاقې مشران، ملکان، سپين ږيري او نېکان خلق پکښې موجود دي. نو په دې موقع د دې يو عالم د قرآن و حديث په رڼا د ننواتې په ارزښت خبرې اوکړي چې په نتيجه کښې ننواتې قبوله شي او بدۍ په دوستۍ بدله شي.

"د پښتنو په ثقافت کښې جرګو، مرکو، مېلمستيا، ننواتې او پناه ورکولو ته يو اهم مقام حاصل دے. مېلمستيا او ننواتې وغېره په پښتنو کښې هغه وخت

نه رائج شوي دي چي کله نه د پښتنو تهذیب و تمدن وده موندلې ده. پښتانهٔ همېشه لپاره په یوه پېښه مسئله باندې جرګه مرکه او ننواتې کوي"(۵).

مېلمستیا یا مېلمه پالنه:

د نړۍ په ډېرو قومونو کښې به د مېلمستیا دود موجود وي. ځکه چي مېلمستیا د ټولو انسانانو یو مشترک خوي خصلت دے. د پښتنو تر څنګ ډېر قومونه شته چي مېلمستیا پکښې په ښهٔ توګه پالل کېږي. خو مېلمه پالنه بیا هغه خوي دے چي په پښتنو کښې په داسې انداز تر سره کېږي چي مثال ئې په ډېرو لږو ټولنو کښې موندلے شي. مېلمه پالنه په پښتنو کښې یو لرغونے دود دے چي له پېړیو راهسې رارواں دے.

ستا د ترخو به دا علاج وي چي په کور درشم
ننګ د پښتو به دې مېلمه ته کړي خوږې سترګې (۶)

د مېلمستیا پاللو عادت په پښتنو کښې ډېر پخوانے رارواں دے. مېلمه پالل د هر پښتون د خپل ژوندانهٔ ضروري برخه ګڼي. پښتانهٔ تر دې مېلمه پاللو ته اهمیت ورکوي چي په کوم ځاے او کوم حال کښې مېلمه نهٔ شي پاللے هغه بالکل نهٔ خوښوي. که سړے په پښتو ژبه کښې لږ عمیق شي نو دا به معلومه شي چي د مېلمه د استقبال او ملاقات د پاره ګڼمره محاورې او خبرې دي. نو دا د مېلمه پاللو په خصلت باندې ښکاره ثبوت دے. د مېلمه د استقبال د پاره پښتانهٔ د خپلې علاقې په نسبت سره مختلف کلمات استعمالوي. لکه جنوبي او مشرقي پښتانهٔ وائي "سترے مهٔ شې، پخېر راغلې" دغه رنګ د پېښور پښتانهٔ وائي "پخېر راغلې او هر کله راشې"

"مېلمه د لوے حق خاوند بلل کېږي. که پښتنه ټولنه کښې څوک د چا مېلمه ته زیان ورسوي دا د کوربه په حق تېرے بلل کېږي. او حق لري چي تېرے کوونکے داسې تعقب کړي لکه د کورنۍ او قبیلې غړي ته ئې چي زیان رسولے وي. مېلمه د عزت نخښه ده. په ښتهنو کښې خو د مېلمه پحقله دا هم وئیل کېږي چي مېلمه د ځان سره خپله روزي راوړې وي"(۷).

مېلمه که څومره لوے مجرم وي خو چي کله د چا مېلمه شي نو نهٔ یواځې کوربه بلکې د مېلمه دښمنان هم ورته څهٔ نهٔ شي وئیلے. په ځینو قبیلو کښې نهٔ یواځې مېلمه ته ډوډۍ ځاے ورکوي بلکې نور سوغات هم ورسره ورکوي.

چې په کور کښې مې څۀ وو تر واړه تېر شوم
و خپل یار وته مې هسې مهماني ده(۸)

مېلمستیا د پښتونولۍ یو اهم صفت دے. ټول پښتانۀ د مېلمه په راتګ خوشحالېږي. تر خپله وسه ورته ښۀ خوراکونه تیاروي او ډېر په روڼ تندي ورته هر کلے وائي. او چې ځي ډېر په ښۀ طریقه ئې رخصتوي. په ټانک کښې د بېټني قبیلې د مېلمستیا مثالونه خلق ورکوي او هره قبیله دا کوشش کوي چې د بېټني په شان د مېلمه مېلمستیا اوکړو.

"لکه څنګه چې اسلام مېلمه ته اهمیت ورکړے دے دغسې بېټنو کښې هم دا خصلت او رواج شتون لري. د هر مېلمه یا مسافر خدمت کول په بېټنځو کښې د هر بېټني فرض دي. په بېټنو کښې که چرې مېلمه یا مسافر د کوربه دښمن وي نو بیا هم په درنه سترګه ورته ګوري او په ښۀ شان ئې مېلمستیا او خدمت کوي، نو که چرته د دغې رواج خلاف وشي یعني کوربه مېلمه ته به بده سترګه اوګوري نو بېټني کښې وئیلے شي چې ګوډ مېړے په کور کښې پهلوان دے"(۹).

بېټني قبیله کښې به دا د عېب خبره وه چې چا به چرګ یا غوښه ورکړه بلکې د مېلمه مېلمستیا به ئې د ګډ یا پسۀ سره کوله. لنډه دا چې بېټني ډېر مېلمه دوست خلق دي او د خپلو روایاتو او دودونو خیال ساتي. د ننواتې دود ته ډېر په درنه سترګه ګوري .

# حوالې

(1) بېتنې، سهيل احمد، د بېتنو تاريخ،دانش خپرونديه ټولنه، ۲۰۱۴ء، مخ ۵۱
(2) سهیل احمد بیٹنی، "تاریخِ بیٹنی"،اعراف پرنٹرز ندیم ٹریڈ سنٹر محلہ جنگی، پشاور،2024،ص197
(3) یوسفزئی نورالامین،"پختون آرٹ اور کلچر"،اعراف پرنٹرز ندیم ٹریڈ سنٹر، محلہ جنگی پشاور،ص157
(4) ژړک، محمد صادق ، پښتونواله، رحمت ديوان، ۲۰۱۷ء، مخ ۱۸۹
(5) ملک شاه سوار خان، د پښتنو ثقافت هنداره، یونائیټډ پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۲۱ء، مخ ۱۶۱
(6) نورالامین یوسفزئی، پختون آرٹ اور کلچر،اعراف پرنٹرز ندیم ٹریڈ سنٹر، محلہ جنگی پشاور، ص157
(7) محمد صادق ژړک، پښتونواله، رحمت ديوان، ۲۰۱۷ء، مخ ۱۷۷
(8) نورالامین یوسفزئی، پختون آرٹ اور کلچر، ص157
(9) سهيل احمد بېتنې، د بېتنو تاريخ، مخ ۵۳.